شیرمحمد امیني «ستانکزی» ۲۰۱۵/۰۹/۰۳

# مینه څه شی ده؟

مینه د دوو زړونو ترمنځ یووالي راولي. مینه وحدت ته لارپیداکوي، ترڅو چې په ولسونو کې ګرانښت راولي او مینه هغه د یوالي سمبول ده، چې د جنګونو، کرکو او نفرتونو تر منځ د سولې نارې وهي او ټول زړونو ته همدا یوه خبره کوي چې مینه وکړئ، ترڅو ښکلي او آرامه ژوند مو په برخه شي.
د مینې لپاره هلې ځلې وکړئ چې له نفاق، جنګونو او بدبختیو څخه خلاصی پیدا کړئ. مینه د ژوند ملګرې وګرځوئ چې د غیرت او میړانې ژوند مو درپه برخه شي. په اوس وخت کې د مینې خوږ او سپیڅلي غږ د هیچا په زړه ښه نه لګیږي، ځکه دوی له نفرت، کرکو، ناخوالو او بې اتفاقیو سره روږدي شویدي. د دوی زړونه ټول د لوی نعمت چې هغه د مینې، یوالي او د وروری فضاء کې ژوند تیرول دي ورڅخه بی برخې دي. همداسې په خواریو، فقر او نفاق کې د یوبل د وینې تویدنې او جنګونو په ویرناکه فضا کې د ظلم ژوند تیروي، دوی د مینې مخالف کسان دي. دغه خلک مینې ته ځانګړې ارزښت نه ورکوي، ترڅو چې دوی ژوند ته هیڅ قدر په سترګه نه ګوري. د مینې ژوند په ټولنه کې داسې خوږ وي، چې هیڅکله به هلته خلک له ناخوالو سره مخامخ نشي، نو له دې امله د مینې ژوند کې راز- راز خوندونه لري، که مینه نه وي ژوند لکه بی مالګي دی او زړه بی له مینې مړ دی.
هرهغه څوک چې مینه نه پیژني هغه د ژوندانه چارې سره علاقه نه نیسي. د ژوند ښکلې خاطرې د مینې پورې زیات تړاؤ لري، هرهغه څوک چې د خپل ژوند ښې او بدې خاطرې ونلري په حقیقت کې د زړه مینه ورسره نه وي. که د چا په زړه کې د مینې ښکلي راز پروت نه وي، نوهغه د ټوله نړۍ کوم چې الله تعالی د بندګانو د هوساینې او د ژوند د اړتیالپاره پیداکړي دي هیڅ پام ورته نه اړوي.
راځۍ چې زړونه مو د کرکې، نفرتونو په ځای له سپیڅلې او پاکې مینې څخه ډک کړو. راځئ چې مونږ هم له دغې کلمې څخه برخمن شو خپل زړونه د مینې له ارزښت اوملګرتیا نه ډک کړو او د پاکې مینې په ژبه له هرچا سره خبرې وکړو، ترڅوله یوې لوې ګناه څخه لرې ووسو او د لوی عزت خاوندان شو.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ